


لیکوال:

داکتر مهندس حشمت الله اتمر

میاشت - تله / کال - ۱۴۰۳

بسم الله الرحمن الرحیم

**لیکي پوهه:**

**سرلیک:** د ژرنده ګړي ماما مینه
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پخښتی ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - تله / کال - ۱۴۰۳
**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

# لړليک

**سرليک** **چوپړی**

پخښتیٰ........................................................................... ١
بسم الله الرحمن الرحيم ..................................................... ٢
ليکي پوهه:.................................................................... ٣
لړليک ........................................................................... ٤
تراڼ (پيل، شروع، بريد).................................................... ٥
د يادښتونو له پاره:.............................................................. ٧
نااندوله ( ناول، کېسه يا داستان ) .......................................... ٨
د چاپ شويو کتابونو لېست .............................................. ٦٤
د کار لاندې کتابونو لېست................................................ ٦٧
د امکان او وخت په صورت کې.......................................... ٦٨
د پختیٰ څېټ ............................................................... ٦٩

# تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إِجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل، د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل.
هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی.
عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل چې ډېر په زړه پورې ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان) د ژرنده ګړي ماما د مینې په نامه و لیکم چې خورا خوندور، رښتنی (حقیقي) او په زړه پورې دی.
د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره شریک کړم.
زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او اینجینېران نه دي، نه باید اوسي، نو ځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم

.........................................................................

چې د هرې څانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دبېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه یې پېژنو.

زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دین له سپیڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**یادښت:**

د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریک کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت

ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

د ژرنده ګړي ماما مینه

.........................................................................

## د یادښتونو له پاره:

۱- .........................................................................................

۲- .........................................................................................

۳- .........................................................................................

۴- .........................................................................................

۵- .........................................................................................

۶- .........................................................................................

۷- .........................................................................................

۸- .........................................................................................

۹- .........................................................................................

۱۰- .........................................................................................

**ناانډوله ( ناول، کېسه يا داستان )**

هغه په کال ۱۳۶۵ هجري شمسي کې په يوې ديندار‌ه، زده کړياله، ښتنې، ميلمه پاله، سپيڅلې کورنۍ کې د هجرت پر محال د پېښور څمکنو په استوګنځي، کواټرو کې زيږېدلی و.

هغه د کوشني والي نه د دينو زده کړو سره، مينه درلوده او د خپل نيکه او انۍ (نيا) نه به يې زده کړې کولې.

هغه خورا هوښيار او د ښه سوچ خاوند و، لږ چې لوی شو بيا به د زده کړو له پاره نږدې جومات ته، ته الته به يې د قرآنکريم لوستل او تفسير زده کړې کولې.

هغه د ښو، نيکو اخلاقو خاوند، مينه ناک، په هر چا ګران، استعداد لرونکی (با استعداده)، ښه مرسته کونکی، سم کاری او صادق الک و.

لمړنی ښونځی يې په کډوالۍ کې د حضرت قيس بن سعد ښونځي کې پيل بيا وروسته هېواد ته ستون شو او لمړنۍ زده کړې يې د لغمان ولايت په مهترلام ښار کې د لمړي لمبر تجربوي ښوونځي کې پيل کړې.

هغه په لږ وخت کې ډېر ملګري و موندل او د هغوی سره به په درسونو(سبکونو) کې مرسته هم کوله.

هغه به ماشومانو ته د ملا امام تر څنګ د لمړنۍ کچې دیني کتابونه زده کړې ورکوې، کله نا کله به يې په ماجت کې آذان هم کوه.

الکانو به ده ته ډېر درناوی کوه او ده به هم هغوی ته ښې او نیکې لارښونې کوې.

وخت تېر شو او هغه په الا (اعلی) درجې سره له لومړني ښونځي څخه فارغ شو.

بیا يې په روښان لېسه کې لوړې زده کړې پیل کړې.

د زاړه تحریک وخت (دوره، دوران) و،

یوه ورځ له نورو الکانو سره توت خوړولو مېلې ته تللی و او بېرته کورخواته روان و چې نابېره (نا څاپه) یوه کس پرې غږ کړ.

کس و ویل:

دلته راشه!

هغه و درېد او بیا د هغه کس خواته روان شو.

په دې وخت کې نور الکان هم ده خواته ودرېدل.

هغه کس و ویل:

الکانو!

تاسو ځئ!

دا به زما سره ځي.

هغه حیران شو او وې ویل:

څه خبره ده؟

د څه له پاره تا سره لاړ شم؟
چېر ته لاړ شم؟

کس و ویل:
ډېرې خبرې، مه کوه.
هم ناوړه کار کوې او هم پوښتنې!

بیا کس هغه یې د غوږ نه ونیو او غوږ یې پرې تاو کړ.

هغه بیا و پوښتل:

چېر ته مې بیایې؟

کس و ویل:

تا کلي ته بیایم.

تا ډېره غټه (لویه یا عظیمه) ګناه کړې ده.
البته به ټولو ته رښتیا وایې.

الک هک پک پاتې و او څه یې نه ویل.

بیا هغوی، کلي خوا روان شول.

هغوې کلي ته نږدې شول.

کس په جګ غږ د هغه د پلار نوم واخیست او وې ویل:
ملا صیب!
وه!؛ ملا صیب!
دلته راشه!

څو ځل یې غږ کړ، مګر د هغه پلار د کس غږ وانهورېد.
بیا یې ماشومانو ته و ویل:
ژر لاړ شئ!
د هغه پلار ته و ویاست، تر څو د باندې راشي.

ماشومانو د هغه کورته دننه شول او څو دکیکې وروسته د هغه پلار د کوره و وت.

کس پرې غږ کړ.
همداسې روزنه څوک ورکوي؟

ته خو په خپله ملا او د دين لوی عالم يې.

د هغه پلار و ويل:
څه خبره ده چې داسې په غصه يې؟

کس و ويل:
نور څه و شي؟
د زوی نه دې پوښتنه و کړه؟
چې څه يې کړي دي؟

د هغه پلار هم هک پک شو او د خپل زوی نه يې و پوښتل:
څه خبره ده؟
څه دې کړي دي؟

زوی يې و ويل:
نه پوهيږم.
زه خپلو ملګرو سره مېلې نه کور خوا ته روان وم، نا ببره (ناڅاپي)
ده کس پر ما غږ کړ او وې ويل:
و دريږه!
چېرته منډې وهې؟
بيا زه و درېدم.
دی را نږدې شو.
پر ما يې وار هم و کړ.
ما ورته و ويل:

څه خبره ده؟
بيا يې زما غوږ کش کړ.
زه يې لاس نيولی دلته را وستم.

بيا هغه کس و ويل:
ملا صيب!
زه به يې درته په غوږ کې و وايم.

هغه د الک پلار ته نږدې او وې ويل:
ستا زوی، زما د وراره سره بد کار(لواطت) کړی دی، اوس هغه په بد حالت (وضعيت) کې دی.

بيا د هغه پلار خپل زوی ته نږدې او له هغه يې پوښتنه و کړه:
آيا دا کس رښتيا وايي؟
الک په ځواب کې و ويل:
نه پلاره!
هغه دروغ وايې.
دا سې کوم کار، ما نه دی کړی.

خبرې ډېرې شوې.

يوه کس به پوښتنې کولې او بل به منفي ځوابونه ورکول.
د کلي شا او خوا کسان راټول شول.

خلک نور هم په ډېرېدو شول او خبره دې ته ورسېده تر څو جرګه و بولي.

د الک پلار و ویل:
سمه ده.
سبا به جرګه و بولو، تر څو پړ (ملامت) کس پیدا شي.

هغه کس و ویل :
نه!
زه یې نه منم.
دا امکان نه لري.
جرګه باید اوس وبلل شي.
ځکه چې ځینې نښې او نښانې به تر سبا ورکې شي.

پریکړه و منل شوه.

خلک لوې دېرې  خوا روان شول.

نور سپین ږیري هم را ټول شول.

سپین ږیرو یوه او بل ته یې د ثبوتولو له پاره مشورې او لارې چارې ښودلې.

خبره اوږده شوه او دوی دې ته اړ شول تر څو د کلي نایې (نایي، سلمان، دلاک، خلیفه) را وغواړي، تر څو هغه ثبوت کړي چې دا کار یې تر سره کړی دی او که نه؟

جرګې یوه کس نایې په سې کور ته و لیږه.
هغه په کور کې نه و.
بیا جرګې نورو کسانو ته دنده و سپارله، تر څو هغه نورو کلیو کې و لټوي.

کسان نایې په سې روان شول، تر څو یې پیدا کړي.

د کلي مشر و ویل:
تر څو چې نایې راځي، مونږ به لږ چای و څښو.

خلکو و منه.

د کلي مشر خپل زوی ته غږ او وې ویل:
لاړ شه او د ټولو له پاره چای راوړه.

هغه و ویل:
سمه ده پلاره.
هغه چای په سې لاړ.

مجلس تود و.

هر راز خبرې کې دې.

لږ ځنډ وروسته چاى ورسيد.
د کلي مشر خپل زوى ته و ويل:
چاى په پيالو کې واچوه.
ګړه (ګوړه) هم ټولو ته و وېشه.

هغه و ويل :
سمه ده!؛ پلاره!
دغه ده!
دستي به يې و وېشم.

خلک د چاى په څښلو بوخت ول.

په دې وخت کې ناېن ورسېد.

د کلي مشر و ويل:
تر اوسه چېرته ورک وې؟

ناېن و ويل:
مشره!
زه بر کلي ته وښتانو جوړولو د پاره تللى وم.

بيا د کلي مشر و ويل:

سمه ده!
ژر لاس په کار شه!

هغه د مشرانو نه و پوښتل:
څه خبره ده؟

هغوی و ویل:
دلته څه ګناه شوې ده، یوازې ته یې کولی شې چې ثبوت کړې.

نایې و ویل:
کومه ختنه (سنتي) خبره خو به نه وي؟

یوه سپین ږیري و ویل:
د ملنډو خبره نه ده.

نایې و ویل:
ما خو کومه ورانه (بده) خبره نه ده کړې.
تاسو و وایاست چې زه څه کولی شم.

هغوی و ویل:
ستونزه حل کړه!!!؟.

نایې و پوښتل:
کومه ستونزه!؟

کس ور نږدې شو او د ستونزې کیسه یې هغه ته و کړه.

نایې و ویل:
اوس، پوی شوم.
بیا یې زیاته کړه:
کولی شم چې خپلې څېړنې پیل کړم؟

جرګې کسانو و ویل:
هو!
مونږ موافق یو.

نایې بیا الک د لاسه ونیو او درې نایې شاهدانو سره یوه کور ته یې د ننه کړ.
بیا یې ورته و ویل:
دې حمام ته ننوځه او پرتوګ دې تر زنګنو ښکته کړه.
هغه هم د نایې د لارښونې سره سم، خپل پرتوګ ښکته او نایې خپلې پلټنې او څېړنې پیل کړې.
نایې په داسې پلټنو کې خورا تجربه درلوده او ډېر زیرک سړی هم و.
نایې د الک نه پوښتنې پیل کړې.
هر راز پوښتنې به یې ترې کولې.

الک به د نایې پوښتنو ته ځواب ویل.
د نایې څیړنې پای ته ورسېدې او نایېو پرې سر و خوروه چې نه، نه هېڅ نه!!.

بیا یې الک ته و ویل:
پر توګ دې بېرته پورته کړه!
الک پرتوګ پورته کړ.

بیا ناین و ویل:
راځئ!
بېرته جرګې ته و ګرځو.

هغوی ټول بېرته جرګې ته راغلل.

ناین و ویل:
ما خپلې ټولې څېړنې و کړې.
دغه الک سپېڅلې (بی ګناه) دی.
هېڅ داسې نښې او نښانې د هغه په تن، د نرلمن او ختو کې نه لیدل کېږي.

بیا جرګې و ویل:
دا خو بی ګناه ثابت شو.
کې دې شي دا کار، کوم بل الک کړی وي.

کس و ویل:
د چې دا کار نه ده کړی، نو چا کړی دی؟
خپله الک هم وایې چې دا کار ور سره ده کړې دی.

جرګې کسانو و ويل:
ستاسو وراره به دی غلی او عاجز ليدلی وي، غواړي دی په تور کړي.
هسې دروغ وايې.
پريکړه، پريکړه ده.
نورو خبرو ته اړتيا نه شته.

يوه سپين ږيری له ځايه پا څېد.
هغه و ويل:
خبره خلاصه ده؛
ملا صيب!
يوه دعا و کړه!
بيا يې زياته کړه:
کس دې خپل تور ببړته واخلي.
د اصلي ګناه کار(مجرم) پلټنه دې و کړي.
داسې بې ځايه تورونه دې په چا نه لګوي.

هغه د جرګې پرېکړې ته د شک په سترګو، و کتل.
څه يې و نه ويل.
ټيټ سر له جرګې نه و وت او خپل کور خوا ته روان شو.

بيا د کلي مشر و ويل:
غرمه نږدې ده.
کولی شئ، له ما سره د غرمې ډوډۍ و خورئ.

جرګې کسانو و ویل:
مننه کوو.

هغوی له خپلو ځایونو پاڅېدل.
بیا هر څوک خپل کور خواته روان شول.

الک او د هغه د پلار په زړونو کې وېره خپره شوه.
د هغه پلار ډېر زیار وباسه تر څو حالات بېرته سم شي.
د الک پلار بېرېده چې هغه کس د ده زوی ته کوم زیان (نقصان) و نه رسوي.
د الک پلار چې خورا عالم او ډېر مهربانه و، پریکړه و کړه چې خپل زوی پېښور ښار، نصرت مېنې ته، زده کړو له پاره و لېږي.

الک ډېر خپه ښکارېده.

څو ورځې تېرې شوي، یوه ورځ سهار وختي، پلار یې خپل زوی ته و ویل:
دلته ژوند کول او سبق ویل د تا له پاره ستونزمنه ده، ښه به وي چې نورې زده کړې د هېواد نه د باندې و کړئ.

هغه و ویل:
سمه ده پلاره!
څه چې د الله رضا وي.

بيا الک د سهار د چای څښلو نه وروسته ښونځي ته لاړ.
ټولګي کې هم خپه ښکارېده.
ملګرو يې ترې و پوښتل:
ته ولې خپه يې؟

هغه و ويل:
هسې !
کومه ستونزه نه شته!
لږ ناروغه يم.

غرمه شوه.
د رخصتۍ وخت و رسېد.
هغه د خپلو ملګرو سره له ښونځي نه کور خوا ته روان شو.
لږ ځنډ وروسته، کورته ورسېد.
کوټې ته ننوت.
د ښونځي کڅوړه يې له څټ (شا) نه خلاصه او په تاخچې (تاکچې، تاقچې) کې يې کېښوده.

بيا د باندې شو، کوزه يې واخيسته، خپل مخ او لاسونه يې پرېمنځل.

مور يې غږ کړ.
زويه!
کوټې ته راشه چې ډوډۍ تياره ده.

هغه کوټې ته د ننه شو او مور ته يې سلام واچوه.

مور يې سلام ته وعليکم و ويل، بيا يې زياته کړه.

دلته کېښنه!
دستر خوان (يوه ټوټه، ټکر، يا رخت چې خواړه پرې ايښودل کيږي، مېز)، خواته.

الک کېناست او پر خوړو يې پيل کړ.
هغه ډوډۍ و خوړه.
له کوټې و وت.
بيا يې اودس و کړ او د لمانځه د جمعې له پاره د کوره د باندې او جومات خوا ته روان شو.
له لمانځه نه وروسته  د نورو ملګرو سره د ډباډب لوبغالي خواته لاړ.
وروسته په لوبو بوخت شو او مازديګر نا وخته ستړی، ستومانه کورته ستون شو.

د ماسخوتن (ماسختن) د لمانځه نه وروسته، پلار يې هم کور ته راغی او خپل زوی يې، ځان ته و بوله.
الک لمړی پلار ته سلام واچوه.

پلار يې سلام ته وعليکم و ويل.
وروسته الک خپل پلار ته و  ويل:
خيرت خو به وي پلار جانه؟

پلار یې و ویل:
هو خیریت دی.
ته دلته کېښنه.

هغه کېښناست.
پلار یې په خبرو پیل کړ.
زویه!
ما پرېکړه کړې ده چې ته به سبا وختي زما یوه ملګري سره پاکستان هېواد ته لاړ شئ او نورې زده کړې دې، الته پای ته و رسوئ.

هغه و ویل:
سمه ده پلاره.

الک د شپې، وختي بیده شو او سهار د لمانځه له پاره پاڅېد.
بیا مور یې ورته سهار چای چمتو کړ.

هغه چای په مینې سره وڅښه.

بیا مور یې ورته کوشنۍ هړپۍ (بکس یا صندوک) ورکړ چې د هغه کالي په کې ول.

هغه بیا څه دیني کتابونه، کتابچې او کلمونه (قلمونه) په خپلې کڅوړې کې کېښودل، د پلار، مور، نورو ورونو او خویندو سره یې خدای پاماني و کړه او د کوره د باندې شو.

په لاره کې یې له نورو ملګرو نه هم خدای پاماني واخیسته، کوم به چې، هغه ته په مخه ورتلل.

څو دکیکې (دقیقې) وروسته هغوی لوی سړک ته ورسېدل.
بیا د ننګرهار ولایت د موټرو اډې خوا ته روان شول.
په مناسب موټر کې پورته شول.
موټر ډېر ژر ډک او بیا یې حرکت و کړ.

د جلال آباد ښار ته د رسېدو نه وروسته د تور خم اډې خوا ته لاړل.
التـه په لیني موټر کې کیښناستل.

موټر ډېر ځنډ وروسته ډک او مخ پر تورخم یې حرکت و کړ.

هغوی یوه ګړۍ وروسته تور خم ته ورسېدل او د موټر نه کښته شول.
بیا د پاکستان هېواد پولې (مزي، بارډر) خوا ته روان شول.

هغوی د پولې نه واوښتل او د پېښور اډې خوا ته روان شول.

التـه په یوه موټر کې کیناستل او څه وخت وروسته، ټاکل شوي ځای ته ورسېدل.
له موټره کوز (ښکته) شول.
بیا په پښو، د هغه نیکه کور ته لاړل.

څو ورځې وروسته یې په زده کړو پیل کړ.

د زده کړو تر څنګ به يې د کراټې، واليبال او کريکټ لوبې هم کوې.
د مسافرۍ ژوند و.
د ورځې به ښونځي ته، ته بيا به يې ديني زده کړې کوې او مازديګر به په لوبو بوخت کې ده.

څه وختونه تېر شول، هغه د يوې افغانې جلۍ سره آشنا (بلد) شو چې د بدخشان ولايت اوسېدونکې وه.
هغه به هم هره ورځ ښونځي ته، تله.
دوی به هره ورځ يوه د بل په مخه ورتلل.

جلۍ به کوښښ کوه چې خپله لاره داسې و ټاکي تر څو هغه الک ورته په مخه راشي.
او کله به يې چې ليدل هغه د سړک په بلې خوا(هغې خوا) روان دی، هغه به هم سړک بلې خوا اوښته او هغه ته به په ستروګو کې ده.
دا کار دوام درلود.

الک هم کله، کله به چې د ټولګي نه وختي رخصتېده د هغې انتظار به يې کوه.
تر څو هغه راشي او وې ويني.

وختونه تېرېده، هغه به خپل پلار، مور، ورنو او خويندو پسې خپه کې ده.
هغه لږ، لږ پيړان (پيپله، اشلوک، شېر يا شعر) ويلو ته مخه و کړه، او لنډ شعرونه به يې ويل او ليکل.

......................................................................

د چارپيريال يا ناوړه نادودو دی دي ته اړ کړ چي له ناوړو انديښنو څخه د الين مکان ( خوشحال خان ختک) او فضل الرحيم ( عبدالغني غني خان) په ډول له خپل واند او اند څخه بېباکه پېيلي (شعرونه) و وايي. چي د ټاټوبي د چارپيريال د نادودو بوی څرک تري څرګنديږي.

دا پېيلي چي په هر بڼه دي خو د پښتو ژبي په علمي لمن کي شتون لري. د نومړي هغو شېبو د پېر څرګندونه کوي او د هغه پېر (وخت) پېيله يي په دي بڼه وه.

د ناين په توره کونه پر ما تور و
سر له غينه نړدي تللی په دا تور کي

د اتو و، نه ختو نه پرېوتو و
له دا توره رب ژغورلی تور په تور کي

نه مشکڼه، نه مي ژڼه، نه نايڼه
يا مروړلي يا خيرلي وي په زور کي

ځيني لړي دي تورونه يي تورو زلفو
وا!؛ خوږمن ته چي خپل زوی تري په شور کي

البته به يي په ادبي ناستو، غونډو، دوديزو مشاعرو او تړي کي هم برخه اخيسته.

هغه د لېسي يا عالي ښوونځي په کچه زده کړي، پای ته و رسولي او ځنډ وروسته بېرته، هېواد ته ستون شو.

هغه به کوښښ کوه چې د طب يوه تکړه روغمن (ډاکټر) شي، مګر څه چې په نصيب کې وي، بل نه کيږي.

د کانکور د آزموينې نه وروسته په اېنجينېرۍ (انجينرى) څانګه کې د کابل يوه دولتي پوهنتون ته بريالى او التـه يې زده کړې پيل کړې.

څو سمستېره زده کړې يې په غوره (اعلى) نمرو سر ته و رسوې.
په رخصتيو کې به کور ته، ته.

کورنۍ به يې ورته د واده کولو نکل کوه، کله به يې ويل:
هغه د تورې ( ترور) لور دې لويه شوې ده، ستا نظر څنګه دى؟

او يا هم به يې ويل:
د عمه لور دې ډېره ښکلې جلۍ ده، ستا نظر په دې کې، څه دى؟
هغه د پوهنتون په شپې خونو(ليلې) کې ژوند کوه.

د ورځې به درس ته، ته او د شپې به بېرته شپې خونې (شپه غالې يا ليلې) ته راتـه او التـه يې د نورو زده کړېالانو په څېر ژوند، کوه.
هغه ډېر فعاله زده کړېيال و.
هغه به د ځينو زده کړېيالانو په علمي کنفرانسونو کې ګډون کوه.
بيا وروسته زده کړېيالانو د ځينو کميټو غړى هم شو.

د ده له پاره د پوهنتون د مسولينو له خوا، يوه ځانګړې خونه (کوټه) د دوې کسانو له پاره ورکړل شوه، تر څو ډېر زيار او کار و کړي.

نورې خونو کې تر اتو او یا ډېر کسانو خپلې شپې تېرولې.

د هغه په ټولګي، پوهنځي او پوهنتون کې د بېلا بېلو ولایتونو څخه ښکلې انجونې هم زده کړې کوې.

مګر هغه به ورته پاملرنه نه کوله او هغوی ته به یې د خویندو په سترګو، کتل.

هغه به په خپلو ویلو او کړنو کې، خورا پاملرنه کوله او کوښښ به یې کوه چې د هغه څخه، څوک خپه او نا راضه نه شي.

شپې ورځې تېرېدې او هغه به له یوه سمستر نه بل سمستر ته بریالی کې ده او د اینجینیرۍ مسلک (کسب) رسېدو ته نږدې کې ده.

هغه پوهېده چې یوازې هغه کسان کولی شي چې، جګړه ځپلي هېواد ته ګټه و رسوي، هغه چې ښې زده کړې و کړي.

هغه به د پوهنتون په اجتماعي کارونو کې هم برخه اخیسته او بهرني مرستندیو مشرانو سره، کوم چې پوهنتون ته راتلل، لیده کاته او ناسته پاسته کوله.

ځواني وه!

انرژي وه!

مسلکي مینه وه!

شپه به ورځ کې ده، ورځ به په شپې بدلېده او د هغه مینه به د زده کړې سره نوره هم ډېرېده.

په ژمنیو رخصتیو کې به خپل مورني ولایت ته، ته او د پوهنتون د پیلېدو نه به څو ورځې د مخه بېرته ستنېده او د نوي سمستر له پاره به یې چمتو والی نیوه.

په شپې خوني (شپه غاله یا لیلې) که د نورو اجتماعي علومو او ادبیاتو د څانګې مینه والو او لیکوالانو سره آشنا (بلد) شو، او د هغوی سره به یې ناسته پاسته هم کوله.

یوه کال چې په ژمنۍ رخصتۍ کې خپل کور ته تللی و، مور یې هغه د عمه لور( دپلار خور لور) کیسه و کړه او وې ویل:

ستا د عمه لور پیغله شوې او خورا دروند مزاج او عادت لري، زمونږ له نظره هغه تا ته مناسبه ده.

الک ډېر حیا ناک او مودب ځوان و.

له حیا یې څه و نه ویل او په سوچ کې ډوب شو.

بیا یې مور ته و ویل:

ما خو تر اوسه هغه نه ده لیدلې؟

مور یې د هغې په هکله نور معلومات هم شریک کړل.

لکه:

د هغې سترګې، قد، اندام، ښکلا، موسکا، ادب، درناوی، غښه، غته روغه او داسې نور...

هغې ځانګړتیاوې د هغه په سر کې ثبتې (ریکارډ) شوې او په زړه کې یې تېر شول چې یوه وار یې چېرته و ګوري.

څو ورځې تېرې شوې او هغه د خپل عمه لور په نابېره (ناڅاپي) توګه و لیده، هغې ته یې په عادی (نورمال) بڼه سلام ورکړ.

هغې هم په ځانګړې موسکا سره د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

دا لیدنه بېخې ډېره لنډه او همدومره وه، د پایلو نه ډکه وه، بیا هر څوک په خپله مخه روان شول.

څو ورځې تېرې شوې او د هغه رخصتۍ هم پای ته ورسېدې.

هغه اړ (مجبور) و چې بېرته کابل ته لاړشي او خپلو زده کړو ته، دوام ورکړي.

هغه ډېر بوخت و او کله نا کله به خپل پلار د خور لور (عمه) لور په هکله، سوچونه کول.

دا سوچونه په پیل کې دومره په جدي توګه نه ول، مګر د وخت په تېرېدو سره ډېرېدل او مینې ته نږدې کېدل.

داسې ښکارېدل چې هغې هم د الک په هکله سوچونه پیل کړي دي او په یوې او بلې پلمې د هغه د مور سره لیده کاته کوه او ځان یې د هغه په نوم کوه.

الک د زده کړو ترڅنګ، کابل ښار کې په یوې مخابراتي شبکې کې کار و موند.

هغه به درسونو نه وروسته، د شبکې دفتر ته، ته او خپلې دندې به یې په ښې توګه پر مخ وړې.

هغه ځان ته د انټرنټ په ذريعه مجازي پاڼې جوړې کړې او ځان ته يې مستعار نوم هم کېښود.

دا نوم داسې و.

## ژرنده ګړی ماما

هغه به ښکلي انځورونه جوړول او په خپله پاڼې کې به يې خپرول.

هر انځور ته يې شمېره هم ور کوله.

ژرنده ګړي ماما په لږ وخت کې ډېر دوستان و موندل او خورا مشهوره شو.

هغه د انځورونو نه يوه بيلګه، د خپرې شوې پاڼې په دې کتاب کې خپروم.

.................................................................




د یوې پانې بیلګه




د یوې پاڼې بیلګه

# د ژرنده ګړي ماما مينه

.....................................................................



د رسول الله (ص) ليک چې دحيه بن خليفه کلتی
په لاس يې در روم پاچا ته ليږلی وه.
متن يې دا دی:
بسم الله الرحمن الرحيم
( د الله په نامه پيل کوم چې پوره
رحم کوونکی او پوره رحم لرونکی
دی)
د محمد ص د عبدالله زوی د الله ج
د رسول له لوري!
د روم لوی هرقل ته !
سلام دې پر هغه چا وي چې د هدايت
پيروي وکړي....!
ورسته زه تا د دعوت په نوم
اسلام ته رابولم،
اسلام راوړه چې په امان شي، الله ج تا ته دوه
برابره بدله درکړي او که دي شا وګرځوله د
ايسبين ګناه به پرتا وي.
ای ! اهل کتابو!
د هغي مشترکي عقيدي له مخي چې زموږ او
ستاسو په منځ کې شتون لري،
راشئ چې بې له الله ج د بل چا عبادت ونکړو او
هېڅ شی د هغه سره شريک ونه ګڼو او يوه ډله
بله ډله د الله ج په مقابل کې يو له بل په الله ج
ونه نيسو
او که يې شا ګرځوله
ووايه چې تاسو شاهدان اوسی چې موږ
مسلمانان يو.

ژرنده ګری ماما: اوه ديرشم چوپری

د يوې پاڼې بيلګه

..................................................................




د یوې پاڼې بیلګه

..................................................................

دیو او دت که په خوا در شي خو بهتر دی
خدای دي بد سړی درنولي په خو ا

د جــاهل له هم دمی نه خو بهتر دی
که له چا سره هم دم شي هژده ها

عبدالرحمن مومند

ژرنده ګری ماما : اله دیرشلم چوپری

مهتر لام انګر

د یوې پاڼې بیلګه

ژرنده ګړی ماما ډېر بوخت شو.

له يوې خوا زده کړې، دنده، د بلی خوا مجازي پاڼو کې ونډه اخېستنه او څارنه.

هغه د زده کړو تر څنګ معاش ور په برخه شو.

معاشونه به يې ټولول او د خپل خرڅ نه زياتې پيسې به يې خپلې کورنۍ سره مرسته کوله.

ژرنده ګړی ماما د کمکی اختر په څلورمه ورځ خپلې عمه کور ته لاړو،
ماښام د ازانو په پېر (وخت) يې کاله ته و رسېد.

دروازه يې و ټکوله.

بيا د عمه زوی يې ور (دروازه) پرانيځ او د ته يې ستړي مه شې او د اختر مبارکي و ويل.

وروسته يې د ته، د لويې اوجرې (حجرې يا کيشوانې) ننوتلو بلنه ورکړه.

هغه اوجرې ته د ننه شو.

په لويه حجره کې يې له عمه سره د اختر مبارکي و کړه، د ورور ورېندار، ورېرو، ورېرې پوښتنې يې هم و کړې؛ له عمه سره په خبرو، خبرو ماسخوتن نږدې کې ده، د ډوډۍ بند او بنست په سې يې عمه پخلنځي لورې لاړه، په دې مهال يې خاوند هم حجرې ته راغلو، د هم له کوشني والي څخه اووه اته کاله ورسته، هغه و ليده،

ښه روغ بړ يې سره په جحره کې پيل کړه،

له سلامه څخه ورسته يې سم له واره و ويل:

زه ډېر ستړي شوی يم، له سردارانو، تربورانو، مشرانو او له ولايته راغلو سترو ميلمنو ستړې مشې نه ډېر ستړی شوی يم.

ته راشه!!

زما پخښې کېکاږه!.

ژرنده ګړی ماما غلی شو.

په زړه کې په سوچ کې لاړ چې:

ماته مې مور ورم ( نصيحت) کړی و،

بچيه!؛

چې سبک وايي او شپه غالې ته ځې، د هېڅ تن پخښې چاپي نه کړې او نه ورسره ګډ په يوه ځای کې ويده شې.

په همدې فکر کې وو چې هغه پرې په کړو وړو خبرو پيل و کړه، ورته و يې ويل:

له ځان څخه دې هېندو جوړ کړی دی!!!؟

ږيره دې راغلې نه ده، تا پرې چاړه کش کړې!!؟

نېکه دې ځان د ديوبند دعواګير، د لغمان ستر عالم ګڼه، د اسلامي ګوند اسلامي دستګاه و او تاته و ګوره!!؟

هغه غلی شو او پام يې و کړه چې د ده لوی نوم ته و ګوره، دوستۍ اړيکې ته يې و ګوره او ميلمه پالې ته يې و ګوره.

که دی ماته لور هم را کوي، نو دومره ټيټېدلو ته اړتيا نه شته چې ځه د، د پخښې کېښکاږم.

د هم ورته چټک ځواب ور کړه او د رټولو ورسته وې ويل.

تاسو هم د مودودي دعوا کوئ، او پېښور کې مو ستره مدرسه ده، چې د ادېنې په ورځ رخصت شي، ټول شاګردان يې سينما ته ځي او التله هغه سينما څومره بد نوم لري، زه په کابل کې تر اوسه نه يم تللی.

نيکه مي ښه نوم درلوده، خو الکان يې نه دي ساتلي.

ډېری شاګردانو دې ويل چې، تاسو يوه تن شاګرد ساتلی دی او د لته بند لورې يې مېنه ده.

په همدې منځ کې عمه يې دستر خوان او ډوډي را وړله.

هغه دسترخوان ته کېښناست، بيا يې ډوډۍ پرې خودله او له حجرې د باندې لاړ.

عمه يې هم ور په سې لاړه.

يوازې دی او دستر خوان شو.

عمه يې ورسته بېرته راغله او وه يې ويل:

کار دې خراب کړ.

د ډوډۍ ته کتل او ډوډۍ د ته،

ستونی يې بند شو لاس يې ور نه وړه او ژړا هم و رغله، غلی، غلی او نور هم غلی شو.

خو بېرته د شپې د تللو له پاره مهترلام ښار ته تلل هم نه وو او يوازې مزل هم نه کې ده.

سبا سهار وختې دی په تېخښته و، هغه له ده څخه وړاندې روان و او پېښور ته، ته.

ژرنده ګړی ماما په ژوند کې دا دوېيم وار و چې د عمه کور نه يې ليدنه کوله.

دی په سوچ کې شو او له ځانه سره يې و ويل:

ارشه درشه همداسې ده.

خورا خواشينی شو.

د هغې د کوره و وت.

څه موده تېره شوه او د ژرنده ګړي ماما مور د هغه عمه کور ته لاړه او ورته يې ياده کړه چې:

د هېواد د دودونو سره سم، مونږ او تاسو ژمنه، لوز کړی وه، که چېرې ما ته خدای زوی او تا ته لور درکړه، ته به خپله لور زما زوی ته راکوې او که چېرې ما ته خدای لور راکړه او تا ته زوی، زه به خپله لور تا ته درکوم.

هغې و ويل:

دا هسې دود دی، مونږ به مشوره، مصلحت او بيا به پرېکړه و کړو.

د ژرنده ګړي ماما مور و منه، د هغې نه يې خدای پاماني واخيسته او خپل کور ته روانه شوه.

ځو ورځې نه وې تېرې شوې چې د هغوی کورونو ته نږدې يوه مهمه سياسي پېښه رامنځ ته شوه.

هغه دا چې:

د لغمان ولايت مشهور اسلامي ګوند کومندان (قومندان) ناصر منصور چې تازه د حج نه راغلی و، د بل کومندان (قومندان) چې د جمعيت ګوند پورې يې تړاو درلود او نوم يې اينجينېر محمد عالم  قرار و، غوښتل اړيکې نږدې او په ګډه کار و کړي.

اينجينېر قرار، کومندان (قومندان) ناصر يې خپل کور ته ميلمه کړ، تر ځو پخواني تاو تريخوالي سره لرې، ديني وروري سره نږدې، لاټينګه او د يوې سولېز چاپېريال کې ژوند و کړي.

کومندان (قومندان) ناصر هم د هغه ميلمستيا و منله او د غرمې ډوډۍ خوراک  د ګډون کولو له پاره، د اينجينېر قرار کور ته روان شو.

هغه ټاکلي کور ته ورسېد او د هغه نه ښه راغلاست و شو.

هغه ډېره خوندوره ډوډۍ او راز، راز شيان پاخه کړي ول.

هغه په خوند ډوډۍ و خوړه.

د ډوډۍ خوړو نه وروسته،  خپل کور خوا ته روان شو.

څه مزل يې کړی و چې په لاره کې د هغه پر کاروان بريد وشو.

سخته نښته پيل او په پای کې د اسلامي ګوند کومندان ناصر د خپلو نږدې کسانو سره و وژل شو.

څو ګړۍ وروسته د اسلامي ګوند مشر ګلبدين حكمتيار ته د موضوع په هكله خبر ورسېد.

هغه هم خپل محلي نورو كومندانانو ته امر و كړ تر څو د اېنجينېر قرار په سيمو او پوستو بريد پيل او د دوی ملا تړ د پاره، د اسلامي ګوند نور كسان مرستې ته ودانګي.

د اسلامي ګوند كسانو د قرغيو د ولسوالۍ خوانه په برېد لاس پورې كړ او د دوې ګوندونو تر منځ، سخته نښته پيل شوه څو ورځې او ګړۍ يې دوام و كړ.

په پای كې د جمعيت ګوند د اېنجينېر قرار په مشرۍ ماته وخوړه خپله ، نور نږدې كسان او دوستان يې د وخت دولتي چورلكې (څرخي طيارې، سيوسيوۍ يا هليكوپترې) چې د جمعيت ګوند په واک كې وه، و ختل.

هغوی د چورلكې په مرسته تېښتې ته، بريالی او نورو كسانو نږدې غرونو ته پناه وېوړه.

سيمې تشې پاتې شوې، په دې وخت كې ځينو مغرضو كسانو او د اسلامي ګوند پلوو د جمعيت ګوند كسانو په كورونو او سيمو يرغل و كړ، ځيني كورونه يې و سوځول او نور يې چور كړل، حتا د ځينو خلكو په وينا، تر دې چې غواګانې او پسونه يې هم له ځانه سره وېوړل.

په دی حال كې د ژرنده ګړی ماما كور هم لوټ او تالان شو، ان د

دوی هرې هړپې ( صندوک، بکس ) هر کلپ يې په مرمۍ ويشتلي وو، ختې او بسترې يې سورۍ، سورۍ شوې وې.
هغه چې څه شی ټول کړي ول، له لاسه ورکړل.

ماښام نږدې شو او د اسلامي ګوند کسانو، د غنايمو سره خپلو سيمو ته لاړل، شاو او خوا يې مورچلې و نيولې.

د ژرنده ګړي ماما کورنۍ هم بېرته ستنه شوه، مګر هر څه يې د لاسه ورکړي ول.

ژرنده ګړی ماما هم چې په دې وخت کې کابل کې و، خبر او ډېر خواشينی شو.

له يوې خوا د مينې ډېرېدل او بلې خوا کور ټول اسباب (وسايل) د لاسه ورکول، هغه ته د منلو وړ نه وه، مګر کار شوی و او سوچ کول ورته هيڅ ګټوره لاره، نه وه.

هغه به کوښښ کوه (زيار باسه ) تر څو بېرته په پخښنو و دريږی، مګر دا کار وخت ته اړتيا درلوده.

څه وخت تېر شو او د هغه مور بيا د رويباری له پاره د هغه د عمې کور ته لاړه، چای څښلو په منځ کې يې خبره بيا تازه کړه او ويې ويل:

زه خو بيا راغلم، تاسو څه و کړل؟

عمه يې و ويل:

مونږ مشوره و کړه، مګر زمونږ نظر او خاصتآ د هغې د پلار نظر منفي (خلاف) و.

د  ژرنده ګړي ماما مور بیا زیاته کړه، او ویې ویل:

زه اوس ځم بیا څو ورځې وروسته راځم، کې دی شي کوم ښه او نوی نظر پیدا شي.

د جلۍ مور و ویل:

هرکله راشئ.

سوچ نه کوم چې په دې هکله کوم بدلون راشي.

د ژرنده ګړي ماما مور و ویل:

ولې؟

هغې و ویل:

بس!

زمونږ او تاسو تر منځ ډېر واټن شته، زمونږ لور نازولې ده او د بلې خوا زمونږ روزګار تر تاسو، ډېر ښه او لوړ دی.

هر څوک باید خپلې پخښې تر خپل نیمګي پورې و غزوي.

مونږ نه غواړو چې په دې هکله د تاسو سره دوستي و کړو.

د ژنده ګړي ماما مور ډېره خواشینې شوه، او د هغې د کور نه ناهیلې و وته، او خپل کور ته ستنه شوه.

د ژرنده ګړي ماما او د هغه د عمه لور تر منځ مینه ورځ تر بلې زیاتېده او دوی په یوه رښتیني مینانو وا وښتل (بدل شول).

کوم وخت چې به ژرنده ګړی ماما کور ته، ته دواړو به یوه بل ته پیغامونه لیږل.

څه وخت تېر شو او ژرنده ګړی ماما له پوهنتون نه په لوړو نمرو فارغ شو.

هغه خپله دنده هم پرمخ وړه.

هغه په دنده کې، ډېر اعتماد، تجربه تر لاسه کړې وه او د کمپنۍ مشر ورته د بهر د دندې وړاندیز هم وکړ.

هغه کمپنۍ د مشر وړاندیز ومانه، د ازبکستان هېواد ته د دندی مخته وړلو له پاره لاړ، تر څو خپل ژوند ببرته راوګرځوي، ډېرې پیسې خوندي او تر لاسه کړي.

مور یې د هغه د واده په هکله ډېر کوښښ و کړ، مګر کومه مثبته پایله یې نه درلوده.

ژرنده ګړی ماما به، په یوه کال کې څو ځلي (پلا) هېواد ته راته او بیا به د خپلې کورنۍ او عمه د لور لیدو له پار، خپلې سیمې ته هم ته.

وخت تېر شو، عمه یې خپل لور بل چاته ته ګوژده کړه، جلۍ هر څه هڅې او زیار وباسه چې خپله کورنۍ قانع او له پرېکړې و ګرځوي، خو بریالۍ نه شوه.

ژرنده ګړی ماما بیا هم د رخصتیو تېرولو له پاره هېواد ته راغی او خپلې سیمې ته لاړ.

البته پوه شوه چې عمه یې خپله لور بل چاته ورکړې ده، خورا خواشینی شو، هېڅ یې د لاسه نه راتلل.

جلی، ژرنده ګړی ماما پړ باله، ځکه چې د هېواده د دندې له پاره تللی و، که هغه نږدې وی، امکان يې درلود چې دوی سره واده کړی وی.

ژرنده ګړي ماما سوچ کوه چې اوس زه غريب يم او هغه به ما ته، التــه خپله لور راکړي، چې پيسې و ګټم، نو ځکه يې کوښښ کوه چې ډېر کار و کړي، ډېرې پيسې و ګټي، تر څو خپلې مينې ته و رسېږي، د خپلې د عمه د لور سره واده او نوی په زړه پورې ژوند پيل کړي.

هغه ته دا ځل سيمې ته تګ، خوند ور نه کړ، ژر بېر ته پلازمينې ته ستون او بيا بهر ته سفر و کړ.

پخوا به په دنده بوخت او يوازې به خپلې د عمه لور سوچ کوه، چېرې به نه، ته.

ماښام به خپل هستونګنځي ته، ته او د سبا ورځې دندې پلانو نه يې جوړول، مګر د هغه ملګرو چې د نورو هېوادنو ول، تر ماښام ناوخته به په ښار کې ميلې او چړچې کولې.

ژرنده ګړی ماما چې لوی آمر و، غوښتل خپل ژوند په خوشحالۍ سره تېر کړي.

هغه به خپل ملګرو ته ويل:

زه نه غواړم چې تاسو په ورانو (بدو) عملونه ککړ شئ.

ښه به وي چې خپلې دندې په ښه توګه سر ته ورسوئ، پيسې ټولې او خپلو کورنيو سره مرسته و کړئ.

تاسو راتلونکی (آينده) لري، دا يوه چانس دی او هېڅکله به، تکرار نه شي.

په هغه وخت کې نورو ملګرو به يې د هغه خبره نه منله او پر هغه به يې ملنډې وهې او ويل:

ته ځوان يې، د ځوانۍ نه دې خوند واخله، بيا به ارمان کوې او هيڅ به دې، په لاس نه راځي.

هغه به نه منله، په خپله دنده بوخت او عبادت به يې کوه.

مګر داځل هر څه بدل شول.

هغه به هم کار د ختمېدو نه وروسته ماښامي ښار ته، ته او د نورو په شان لږ، لږ بدلېده.

هغه ډېر د وړتيا سره آمر و، د تنخواه (معاشاتو) ټاکل، د پروژو پيسو اټکل او مصرف هم د هغه په غاړه و، ځکه د کمپنۍ عمومي ريس هم پر هغه خورا باور (اعتماد) درلود.

يوه ورځ ماښام  چې يوه کار کونکی يې، کاري دفتر ته نه وه راغلی، پريکړه و کړه تر څو تنخواه د هغه کورته يوسي، کې دی شي ورته اړتيا و لري.

هغه د دفتر نه د باندی شو او د کارکونکي کور ته لاړ تر څو د هغه تنخواه ورته ورکړي.

هغه ټاکلي ځای ته ورسېد.

موټر يې د هغه کور ته نږدې ودراوه.

خپله يې د موټر نه کوز شو.

د هغه د کور دروازه يې و ټکوله.

هغه د کور نه د باندې شو.

په دې وخت کې دفتر د کور خاونده راغله او ژرنده ګړي ماما ته يې و ويل:

دلته څه کوې؟

د څه له پاره راغلی يې؟

هغه و ويل:

دلته زه کارکونکي، تنخواه د ورکولو له پاره راغلی يم.

بيا يې د هغې نه پوښتنه و کړه:

ته دلته څه کوې؟

هغه چې د ازبکستان د پارلمان غړې هم وه، و ويل:

ما خپل شخصي کور تاسو دفتر ته په کرايه درکړی دی، زه دلته په ارزانه کرايي کور کې اوسېږم (ژوند کوم).

نه!

زه يې نه منم.

ته کوم بل کار ته راغلی يې.

کې دی شي، ما تعقيب کړې.

ته ماته پيږ يې.

ولې دې ماته خبر را نکړ چې دلته راتللې؟

ژرنده ګړي ماما و ويل:

زه خبر نه وم چې ته دلته ژوند کوې.

هغې و ويل:

هسې بانې (بهانې) مه کوه!
اوس غواړم چې پوليسو ته زنګ و وهم تر څو هغوی راشي او تا ته مناسبه جزا درکړي.

ژرنده ګړي ماما و ويل:

زه فقط تنخواه ورکولو له پاره دلته راغلی وم.

تنخواه مې ورکړه او غواړم چې بېرته دفتر ته لاړ شم.

هغې و ويل:

نه!

داسې نه کېږي!

تا نه بايد هرو مرو څېړنې و شي.

هغه و ويل:

ما کوم وران کار نه ده کړی، نو ولې بايد له ما نه څيړنې و شئ؟

هغه زوره وره ښځه وه.

هغې غوښتل چې ژرنده ګړی ماما و وېره وي.

تر څو د هغه نه پیسې وشکوي (لاس ته راوړي) او یا ور سره غوره پېژند جوړ کړي.. .

خبره اوږده شوه.

د هغه کارکونکي مور، د کور نه د باندې شوه.

هغې په چارو کې مداخله و کړه او د هغې یې و غوښتل تر دې داوا (دعوا) تېره شي.

د کارکونکي مور د هغې سره پېژندل او اړیکې یې درلودې.

هغې ژرنده ګړي ماما ته ډاډ ورکړ چې:

دا مسله به زه اواره کړم.

ته سوچ مه کوه او خپلې دندې ته دې پایښت ورکړه.

اوس ځه!

بیا سره په اړیکه کې کېږو.

څه موده وروسته د کارکونکي مور ژرنده ګړي ماما ته زنګ و واهه او وې ویل:

خبره مې اواره کړه.

هغه ستاسو د کور مالکه ده او ته پرې هېڅ پام نه راوړې.

ته سوچ مه کوه او دنده دې مخ ته بیایه.

هغه ډېره مننه و کړه.

څه موده وروسته هېواد ته راغی.

هغه د عمه د لور د واده نه خبر شو.

هغه ډېر خواشینی شو.

ژرنده ګړي ماما عمه د لور واده نه، دوې کاله وروسته سیمې ته لاړ او د عمه د لور سره یې لیدل په نا پامۍ کې و شو.

هغه ډېره په غصه وه.

هغې پر ژرنده ګړي ماما ډېرې خبرې و کړې او وې ویل:

دا ټول د تا د لاسه.

که ته مخ کې شوی وې، نو ولې به یې زه دې کس ته ورکولم.

ژرنده ګړي ماما و ویل:

زما ګناه نه ده.

ما څو ځلي ستاسو کور ته رایباران لېږلي دي.

خو!

ستا مور او پلار نه دي منلي.

او هغوی ویلي دي:

تاسو بې وزلي یاست.

زمونږ او تاسو ژوند سره ډېر توپیر لري.

بس!

د الله کارونه دي.

څه چې نصیب وي، هغه به کیږي.

بیا یې هغې ته نصیحت وکړ او ویې ویل:

تا اوس واده کړی او میړه (خاوند) لرې، کوښښ و کړه د هغه سره خپل ژوند خوشحاله تېر کړئ.

بیا هغې و ویل:

هو!؛ زما د واده دوې کاله کیږي.

زه هېڅ احساس نه کوم چې واده مې کړی وي.

ګوره!

ته زما د کوژدې نه خبر شوی نه وې؟

اوس، پوره دوې کاله زما د واده هم کیږي.

ته ولې واده نه کوې؟

اېنجینېر هم یې، دنده هم لري او ... .

کوشني ورور دې لا ډولۍ را وړه بل به یې هم را وړي.

آیا تر اوسه هم پر ما مین یې؟

هغه و ویل:
زه خبر نه وم.

د سید حسن کانه پر ما کوې؟

بیا یې زیاته کړه.

هر څه د الله په لاس کې دي.

د ځمکې پر مخ ښې جوړې سره ګوري او بیا یې سره یوه ځای کوي.

زه به کوښښ و کړم چې مناسبه جلۍ پیدا او د هغې سره واده و کړم.

بیا یې د هغې نه د ټیلفون شمېره واخیسته او ویې ویل:

زه به کله ناکله ستا خبر اخلم.
هغې خپله شمېره ورکړه او سره جلا شول.

یوه ورځ وروسته ژرنده ګړی ماما پلازمینې ته راغی او بیا یې هغې ته زنګ و واهه تر څو، هغې ته ډاډ ګېرنه ورکړي او هغه پوه شي د ده کومه ګناه نه شته.

غوږکی (ټیلفون) یې له جبه و ویست او د هغې شمېره یې دایره (دایل) کړه.

هغې غوږکی پورته (اوکې) کړ.

بیایې و پوښتل:

څوک یې؟

هغه و ویل:

زه یم.

ژرنده ګړی ماما.

بیا هغې خوله خلاصه او سترګې پټې کړې له بلې سره.

څه يې چې وچه، سپورې په زړه کې راګرځېدې، ژرنده ګړي ماما ته يې و ويل، او زياته يې کړه چې:

نور به ما ته زنګ نه وهې.

بيا يې غوږکی بند کړ.

ژرنده ګړي ماما کوښښ و کړ چې هغې ته بيا زنګ و وهي او ورم (نصيحت) و کړي، مګر هغې غوږکی بند کړ او د اړيکې امکان پريک شو.

په دې توګه، هر څه خلاص شول.

د هغه اړيکه د تل له پاره بنده شوه.

ژرنده ګړی ماما ډېر خواشينی او په غصه شو.

چې دا څه و او دا څه و شو،

نور به په ژوند ور سره اړېکه و نه نېسم،

هغه څه، راپېښ شول چې تمه يې نه کېده.

څو ورځې تېرې شوې.

هغه بېرته اوزبېکېستان هېواد ته لاړ.

او يوه هفته په تاشکند (تاشکنت) ښار کې پاتې شو.

ريس يې ترې غوښتنه و کړه چې د کارنو د کنترول په هکله سمرکند ښار ته لاړ شي.

سمرکند ډېر ښکلې، تاريخي او اسلامي ښار دی.

په نړۍ کې هم خورا مشهوره دی.

ژرنده ګړی ماما په تاشکند کې بلد شوی و، زړه يې نه غوښتل چې بخارا ښار ته، لاړ شي.

دنده - دنده ده.

څنډ وروسته اړ شو چې سمرکند ښار ته لاړ او دنده تر سره کړي.

التـه هم د خلکو سره بلد شو.

څه موده وروسته يې د يوې مذهبي کورنۍ سره آشنا شو.

خوررڼه يې پيدا کړه.

هغې به ژرنده ګړی ماما، جشنو او نورو مذهبي رخصتيو ورځو کې ميلمه کوه.

ژرنده ګړی ماما ډېر ښه سړی و، د چاه سره به يې دوکه نه کوله.

يوه ورځ هغه ته، خوررڼي يې و ويل:

ته يوازې (مجرد) يې؟

هغه و ويل:

هو!

زه لومړی د خپلې عمه د لور پر نامه وم.

زه د هغې په تمه وم.

هغې کورنۍ د دوستۍ نه ډډه و کړه؛

هغه يې بل چا ته ورکړه.

خوروڼې يې و ويل:

زه د يوې کورنۍ سره پېژنم،

هغه هم مذهبي کورنۍ ده.

هغوی يوه ښکلې پيغله لور لري.

زه به يې تا ته ورغواړم.

هغه و ويل:

دا آسانه کار نه دی.

زه به خپلې کورنۍ سره خبرې و کړم، بيا به تا ته خبر درکړم.

څه موده تېره شوه او هغې بيا د ژرنده ګړي ماما نه، پوښتنه و کړه او وې ويل:

تا د کورنۍ سره خبره و کړه؟

هغه و ويل:

هو!

سوچ نه کوم چې راځي شي.

هغې و ويل:

ته ځانته واده کوې او که کورنۍ ته؟

هغه و ويل:

ځانته.

هغې زياته کړه.

بيا ستا تصميم اړين دی.

څه و خت تېر شو، يوه ورځ د هغه خورڼې ژرنده ګړی ماما، خپل کور ته ميلمه کړ، وخت ماښام و او د جلۍ کور هم ډېر نږدې و.

ميلمستيا پيل، هر راز خواړه او ميوې په دستر خوان راټولې شوې.

ژرنده ګړی ماما په خوړو پيل کړ، شاو او خوا نور ميلمانه هم ول.

په دې وخت کې يوه ښکلې جلۍ د ميز تر څنګ (شا) تېره شوه.

د ژرنده ګړي ماما پرې پام شو او له خورڼې يې و پوښتل:

دا هماغه جلۍ نه وه، کومه چي تا زما له پاره غوښتله؟

هغه په خندا شوه او وې ويل:

هو!

هغه په خپله وه.

ژرنده ګړی ماما ته په زړه ښه ولګېده او بيا يې د عمه د لور وروستۍ شپېې، سپکې، سپورې، بدې، ردې ويل (ښکنځل) په غوږ کې ازانګې شوې، بيا وروسته غوږکی بندول، پر سر و ګرځېده او په سوچ کې ډوب شو.

په دې وخت کې د خورڼې يې پرې پام شو او ويې ويل:

څه شول؟

ولې په سوچ کې شوې؟

ژرنده ګړی ماما و ویل:

هېڅ!

څه مې په ماغزو کې و ګرځېدل.

کومه ستونزه نه شته.

ماښام ناوخته بېرته دفتر ته راغی.

بیا بیده شو.

څو ورځې وروسته خوروڼې یې اړیکه و نیوه او ویې پوښتل:

کومه پرېکړه دې و کړه؟

هغه و ویل:

هو!

خوروڼې یې و ویل:

بیا څه؟

هغه و ویل:

د هغې د غوږکي شمېره راکړه.

هغې ورته د غوږکي شمېره ورکړه.

څه موده تېره شوه او ژرنده ګړی ماما خپل هېواد ته راغی.

هغه به په مناسب وخت کې جلۍ ته زنګ واهه.

دوی د یوه بل په ژبه نه پوهېدل.

یوه بل ته به یې د لاتینې ابېڅې په مرسته پیغامونه پرېښودل.

د دوی په زړونو کې مینه پیدا شوه.

څه وخت تېر شو.

هغه په پلازمېنه ( کابل) کې دنده تر سره کوله، بیا سمرکند ته لاړ.

خورزړنې ته یې و ویل:

رویباری و کړه!

هغې د جلۍ پلار او مور سره خبرې و کړې، دوې کاله وروسته یې هغوې دې ته راضي کړل، تر څو خپله لور ژرنده ګړي ماما ته ور کړي.

رویباري ګټه وره او دستمال د سیمې رواجونو سره ورکړ شو، بیا یې د واده وخت وټاکه چې په هو ټل کې تر سره کې ده.

ژرنده ګړي ماما ښه ډېر سره زر (طلا) هغې ته واخیستل او په هوټل کې یې پر میلمنو هم خورا ډېر مصرف و کړ.

واده تر سره شو.

هغوی په سمرکند کې خپل نوی ژوند پیل کړ.

په رښت کې دا د ژرنده ګړي ماما رښتنې (حقیقي) مینه وه، هغه مینه د هغې له لورې وه دروغځنه؛

دغه مینه د ده رښتني مینه ده او د ژوند تر پایه به یې د زړه په مینه و پالي.

لمړی یې نازولې لور دنیا ته راغله او بیا بله لور، بیا د دوو ځامنو پلار (خاوند) شو.

وروسته بېرته هېواد ته ستون شو او د نوې کورنۍ سره، خپلې سیمې ته لاړ.

التــه یې هم خوشحالی غونډه جوړه کړه.

تر شپېږ سوو، ډېر کسان یې وبلل.

ټولوته یې، د رواج سره سم، ډوډۍ ورکړه.

خلک به هغوی کور ته د مبارکۍ، ناوې لیدو د پاره تلل او دوی به هم ورته بهرنۍ خوږه (چاکلیت) ورکول.

خلکو به راز، راز تبصرې کولې، چا به ویل:

دا ښځه روسۍ ده چې د دینداره کورنۍ نه ده او تور ویښتان لري، کالي یې هم مسلمانانو ته ورته، پر پایڅو یې ستارې دي.

بیا به د ژرنده ګړي ماما مور خلکو ته، د هغې په هکله معلومات ورکول چې.

هغه د یوې دینداره کورنۍ ده.

پلار یې دیني عالم دی.

په خپله سیمه کې یې ماجت جوړ کړی دی.

هغه ماجت د دې د پلار په نامه دی.

خلک به حيران کېدل.

ژرنده ګړی ماما خپله دنده بېرته هېواد کې د ننه پيل کړه او هرې خوا ته به ته، هر ولايت او هرې ولسوالی نه به يې د شبکو ليدنه کوله.

د نويو پروژو کنټرول به يې کوه.

د رخصتيو په وخت کې سيمې ته، ته او ځو ورځې به يې د خپلې ښځې او ګلالي ماشو مانو سره تېرولې.

هغه په يوه ختېنه کلا کې ژوند کوه، مګر د عصري ژوند ټولې برخي يې لکه:

لمريزه برېښنا، ديش آنتن، ستر ليندی ټلويزيون، غږيز پخلنځي، ستر سړوبي، برېښنايي د لوړ حبس لوښو وېنځلو، وچولو وسايل او داسې نورې آسانتياوې برابرې کړې وي.

بيا يې د حج هوډ و کړ او د خپلې ښځې او ماشومانو سره عمرې حج ته لاړ.
په دي وخت کې هغه دوې لونې او دوه ځامن درلودل، بيا وروسته خدای ورته بل زوی هم ور په برخه کړ.

خوشحاله ژوند يې درلود.

څه موده وروسته په هېواد کې حالات وران (خراب) او امنيت ډېر کړکېچن شو، هغه خپله ښځه، ماشومان بېرته سمرکند ته و لېږل، خپله په هېواد کې دننه پاتې او کار کوه.

پيسې به يې ټولولې او خپلې کورنۍ ته به يې لېږلې.

څه وخت تېر شو او په هېواد کې بدلون راغی.

وروسته له شلو کلونو اسلامي امارت بېرته واک ته ورسېد، او ټول واک د ملايانو او دينو علماو په لاس کې پرېوت (ولوېد).

سخت ګيری پيل شوې.

د امارت نظام بې (پرته) له رسميت پېژندلو نه کار پيل او سر ته وړي.

ژرنده ګړی ماما کابل کې او کورنۍ يې سمرکند کې بند پاتې دي.

هغوی کوښښ کوي چې سره يو ځای شي، مګر د اوس له پاره هېڅ امکان نه په سترګو کېږي.

پوره دوې کاله تېر شول.

هغه هر راز هڅې و کړې چې الته لاړ شي.

مګر!

ژرنده ګړی ماما و نه توانېد چې په نېغه ټوګه سمرکند او يا هم د بل هېواد په مرسته خپلو ماشومانو سره يوځای شي.

وخت تېرېږي.

ژرنده ګړی ماما اوس هم په يوې رسمي دندې بوخت دی.

هغه خپله تنخوا او نور امتيازات راټولوې او خپلې کورنۍ ته يې استوي.

پاي

## د چاپ شويو کتابونو لېست

١. معماری افغانستان
٢. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری(بخش شفاخانه ها)
٣. راهنمود طلايي
(برای اساتيد انستيتوت های تخنيکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد اول
٥. رسم تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
٧. معماری اصيل شهر کابل (مرادخانی)
٨. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
٩. افغانستان در قرن تکنالوژی
١٠. زونبندی اقليم و زلزله افغانستان
١١. صدقه جاريه/ دنيای اينجينيری
١٢. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٣. داستان حقيقی با مقياس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاوير مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
١٧. بنيا نگذاری اولين مساجد توسط افغانها در آسترليا
١٨. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
١٩. منار جام – الهامی برای قطب منار
٢٠. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد سوم (١٩٩٠ الی ٢٠٢١)
٢١. جام يا کليان ( کلان )

..................................................................

۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲۴. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چي قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کي)
۲۶. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳۴. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچين (پښتو ناول)
۳۶. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صیب خیرالله مخدوم (جلد اول)
۳۹. برف ها آب میشود
۴۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
۴۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
۴۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
۴۳. د اسلامي معماری پیل
۴۴. نامنوني ژوي (پښتو ناول)

.................................................................

٤٥. حيوانات شوخ ( ناول به زبان درى)
٤٦. مجموعه از دروس دينى مولوى صيب خيرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپيلۍ مينه (مه ينه) په کچه ګړی کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مينه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
٥١. د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګړي ماما مينه (پښتو ناندوله يا ناول)

......................................................................

## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صیب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٢. په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ
٣. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٤. لیونۍ لېوه
٥. بې زده کړې پوی
٦. شپنه ادې
٧. کوشنۍ سوداګره
٨. سپين کارغه
٩. سور تنور
١٠. خړه بیزو
١١. بندي مرغه
١٢. توده برستن
١٣. د ژوند پای

## د امكان او وخت په صورت كې

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

# Love

# Of

# The miller

Written by: Architect PhD
Hashmatullah Atmar
September/October-2024